**مطبوعاتي اعلامیه**

**له یهودي دولت سره د هادي د حکومت د بهرنیو چارو وزیر ناسته؛ شرمونکی خیانت دی چې د یمن د خلکو لپاره د منلو نه دی!**

**(ژباړه)**

د هادي د حکومت د بهرنیو چارو وزیر خالد الیماني، په هغه کنفرانس کې چې د لهستان (پولنډ) په پلازمېنه وارسا کې جوړ شوی و، په پر له پسې په دویمه ورځ هم د یهودي دولت لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو تر څنګ کېناست. دا بیخي نوې پرېکړه وه؛ چې له یهودي دولت ـ د فلسطین اشغالګر ـ سره د یمن د خلکو دښمني نه راکموي. د مذاکره کوونکو د ادعا پر اساس دا کنفرانس یوازې د منځني ختیځ په اړه و. د غربي او عربي هېوادونو په ګډون جوړ شو او له ایران سره مخ کېدل یې د پلانونو په سره کې ځای لري.

کله چې یمنیان د هادي حکومت د بهرنیو چارو وزیر خالد الیماني له دغې پرېکړې په قهر شول او هغه یې وغنده، نو هڅه یې وکړه، چې دا شرموونکې او سپکوونکې پرېکړه توجیه کړي. هغه پخپله تویټر پانه کې لیکلي: «د فلسطین په قضیه کې د یمن، د هادي د ولسمشرۍ، خلکو او رهبرۍ دریځ ثابت دی؛ د مذاکرې وړ نه دی. کله چې ما په ملل متحد کې پر اورشلم د تجاوز لپاره د عربي تحریک دنده درلوده، دا د ښاغلي ولسمشر په هدایاتو کې روښانه شوې وه. د وارسا په ناسته کې د ګډون دلیل د فلسطین د قضیې په اړه نه و؛ بلکې په یمن کې د ایران د نفوذ د پراختیا پر وړاندې د نړیوالې ټولنې یوځای کول و.»

له یهودي ـ د فلسطین اشغالګر ـ دولت سره د اړیکو عادي کول، له الله سبحانه وتعالی، د هغه له رسول صلی الله علیه وسلم او له مومنانو سره خیانت دی. دا مزدوران د یمن د خلکو استازیتوب نه کوي. یمنیان د یهودو له جنایتګر دولت سره د جهاد تږي دي. یوازې د رهبرۍ تشه ده، چې هغوی د فلسطین ازادولو او د یهودو ـ د مسلمانانو لومړۍ قبلې او د اسلام دریېم سپېڅلي جومات د غاصبینو ـ د له منځه وړو لپاره رهبري کړي.

دا مزدوران د خپلو کارونو هېڅ صلاحیت نه لري. بلکې د خپلو بادارانو (کافرو ښکېلاکګرو) له دستور هم زیاته پیروي کوي. دوی د یهودو له دولت سره د اړیکو په عادي کولو، پر امریکا، حوثیانو او ایرانیانو د فشار راوړلو په وسیله. دغه دولت ته نږدې کېږي. دوی نه پوهېږي چې په دې کار به په یمن او سیمه کې د ایران او د ایران حوثي پیروانو امتیاز زیات شي. په داسې حال کې چې هغوی، ایران او پیروان یې د یهودو د دولت واقعي دښمنان بولي. خو د ایران رسمي چارواکي وایي، چې زموږ او د یهودو د دولت تر منځ هېڅ ډول دښمني نشته. هغه څه چې په شعارونو کې ویل کېږي؛ «مرګ په امریکا، مرګ په اسرایلو» ظاهري شعارونه دي، د امریکا یا یهودو دولت پر وړاندې د جهاد په مانا نه دي.

دا حقیقت په کراتو ویل شوی او وروستی ځل هم د ایران د بهرنیو چارو وزیر محمد جواد ظریف، د پاینتلي په نامه له یوې فرانسوي ورځپاڼې سره په خبرو کې روښانه کړ. ده هغه تورونه چې هېواد یې د یهودو د دولت د له منځه وړو په هڅه کې دی، رد کړل. هغه په تعجب سره وویل: «موږ څه وخت اعلان کړی، چې اسراییل به له منځه یوسو؟» په دې خبره یې ټینګار وکړ، چې هغوی نه دي ویلي، چې یهود به د نقشې له مخې لرې کړي. په دې اړه یې وویل: «موږ څه وخت ویلي، چې اسراییل به له منځه یوسو؟ ما ته د ایران یو رسمي چارواکی راوښییئ، چې داسې یې ویلي وي، هېڅ نه دي ویلي.»

د حزبونو او هغو کسانو چې د اسلامیت ادعا لري، دا خاموشي ډېره نوې ده. هغه خاموشي چې د هادي د حکومت د بهرنیو چارو وزیر د خیانتکارې پرېکړې پر وړاندې ده. د یمن عالمان ـ د عقل او ایمان خاوندان او نوابغ چېرته دي؟! یا که د دې خلکو حالت هم د مزدورانو په څېر شوی؟ دوی دي، چې د دین او امت پر وړاندې د دغو هېوادونو جنایتونه تایید او یا ردوي!

د فلسطین ازادي به په غندلو، اعتراض او لاریونونو تر لاسه نه شي؛ بلکې د یهودو د دولت د له منځه وړو لپاره د پوځیانو په یوځای کولو به تر لاسه شي. موږ په یمن کې له ځواکمنو خلکو، قبایلو، د پوځ له قومندانانو او افسرانو غواړو، چې له خپلمنځی جګړې ـ چې ښکېلاکګر کفار خپل پلانونه پرې تر لاسه کوي ـ د یهود دولت په طرف ور وګرځوي. د ټولو حزبونو له مزدورانو ـ چې په خپل منځ کې په جنجال دي ـ ځان لرې کړئ. ځکه چې دوی مو د بې عزتۍ، خیانت او ویجاړۍ په لور رهنمایي کوي.

د سعودي عربستان، اماراتو او نور خاین حاکمان، د یهودو له دولت سره د هادي حکومت د اړیکو په عادي کولو لګیا دي،څو امریکا قانع کړي، چې پر ایران بیا فشار راوړي او پر یمن او سیمه کې یې نفوذ محدود کړي. امریکا د دې لپاره چې د پېړۍ له تر ټولو بد حالت څخه تېره شوې وي، غواړي د یهودو پر وړاندې د امت دې جګړې ته، له ایران سره جګړه او د هغوی د نفوذ د محدودولو په نامه، د امت په خپلمنځي جګړه بدله کړي. چې ماتې به وخوري ان شاءالله...

مسلمانان باید د دښمنانو له نقشو خبر وي. د اساسي بدلون لپاره یې د باطلولو هڅې وکړي. چې دوی به بیا یو وجود کړي او مخ پر لوړه به ولاړ شي. د نبووت پر منهج د ثاني خلافت په تاسیسولو سره، چې د مسلمانانو مقام جوړوي، له عزت څخه یې ساتنه کوي او مقدسات یې ازادوي. لعنت شوي به حذف او د کفارو او کم عقلو مزدورانو لاسونه به ورلنډ کړي. د الله پر وړاندې له دې بله مهمه موضوع نشته.

**د حزب التحریر ـ ولایه یمن مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه:** 09/1440- HIY

**1440هق د جمادی الاول 11مه**

**2019م د فبروري 16مه**